# درې وزان ورونه



**De tre bukene bruse. Foto: wikimedia.org/wiki**

وو نه وو درې وزان ورونه وو چې په یوه لویه ښکلې دښته د څر ځای کې سره ژوند کاوه .یوه ورځ کله چې هغوی واښه خوړل په دې وخت کې کوچني ورور وویل:

ځومره به ښه شوې وای چې مونږ هم د سیند هغې غاړې ته تلې وای او د هغه ځای واښو نه مو څکه کړې وای. منځني ورور د سیند هغه غاړه وکتله او ځواب یې ورکړ:

دا کیدای نشي وروره، ځکه چې دسیند اوبه دومره ډیرې دی چې مونږ نشو کولای له هغې نه تیر شو. د سیند هغې غاړې رسیدو ته یواځني لاره د پل سر وه چې د هغه لاندې یو بد ډوله بد دماغه دیو د ویرونکو سترګو سره ژوندکاوه.

کوچني ورور په نا امیدي وویل:

نو مونږ هیڅکله نشو کولای د سیند هغې غاړ ې ته ولاړ شو .مشر ورور پس له لږ سوچ نه یو څه په فکر راغلل او ویې وویل:

ولې مونږ کولای شو د سیند هغې غاړ ې ته ولاړ شو. په دې شرط چې د پل لاندې دیو څخه ونه ویریږو!

منځني ورور وويل:
دا څنګه کيداي شي چې وړې ديو مونږ ونخوري؟

مشر ورور وويل:
مه ورخطا کيږي! زه يوه نقشه لرم. که زما خبرو ته غوږ کيږدی ډير به ښه شي. وروڼو ورسره ومنله.
لومړي کوچني ورور په ډارسره پل ته نږدې شو او په ټيپ ټاپ تيپ ټاپ په پل باندې خپل قدم کيښود.
ويرونکې ديو چې ويده وه را ويښ شو او په هغه يې غږوکړ:
چا خپله پښه زما په پل کيښوده او زه يې له خوبه را ويښ کړم؟
کوچني ورور چې له ويرې لړزيده وويل:
زه کوچني وز يم غواړم چې د سيند هغې غاړې ته ولاړ شم واښه وخورم تر څو چاغ او تندرست شم.
ديو خپل ځان د پل سرته را ورساوه او وې وويل: زه غواړم همدا اوس تا ونيسم او وخورم.
کوچنې وز په تلوار وويل:
ما مه خوره زه ډير ډنګر يم تا نه مړه وم. صبر وکړه تر څو مشر ورور مې راشي هغه له ما نه چاغ او تندرست دی، هغه وخوره. ديو کوچنې وز ته وکتل له ځان سره يې وويل !بد فکر نه دي! په تمه کيږم تر څو چاغ مړي په لاس راشي. له دې کبله يې کوچني وز ته مخ ور واړاوه او اجازه يې ورکړ تر څو له پل څخه تير شي. څو شيبې وروسته بيا ديو د پل په سر د ټيپ ټاپ،ټيپ ټاپ،غږ واوريد او غږ وکړ:
چا جرئت وکړ چې له پل څخه تير شي؟
منځني ورور په ډيرويره وويل: زه منځني وزيم غواړم د سيندهغې غاړې ته تير شم اوواښه وخورم تر څو چاغ او تندرست شم.
ديو ځان د پل سر ته ورساوه او وې ويل:
همدا اوس تا نيسم او خورم.
منځنې وز وويل:
ما مه خوره!زه ډير ډنګريم تا نه مړه وم. صبروکړه چې مشر ورور مې راشي هغه وخوره هغه له ما نه چاغ او تندرست ده. ديو راځې شو او منځني وز يې پريښود. ددريم ځل لپاره مشر وررله پل څخه په تيريدو پيل وکړ.
ديو وپوښتل:
چا جرئت وکړچې له پل څخه تير شي؟
مشر وز وويل:

چا تاته اجازه درکړې چې پل خپل وګټې؟

دیو په قهر شو او ویې وویل:

اوس تا ته در وښایم. مشر وز چې څان یې حملې ته چمتو کړ او وویل! زه دوه تیز ښکرونه لرم چې د نیزې په شان دي.راشه چې زه یې در وښایم.په دغه شیبه د خپلو ښکرو د دیو خواته حمله وکړه او هغه یې په یوه کاري او کلکه ضربه اوبو ته واچوه. اوبه رواني وي او دیو یې له څان سره ویوړ.

مشر وز راضي او خوشحاله شو څان یې د سیند هغې غاړې ته ورساوه اود هغې غاړې درې وزان تر څو چې کولاي شو واښه وخوړل تر څو چاغ او تندرست شي. له هغه وروسته وزان هلته پاتې شول په دغه ډول زمونږ کیسه پاي ته ورسیده.

**Kilder:**

http://norsksidene./web/PageND.aspx?id=99674